# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

**16قوس _سال 1401**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب


عنوان صفحه

به 379 خانواده در لغمان مساعدت شد ---------------------------------------------------------------------------1

پکتیکا کې له زرو زیاتو کورنیو سره مرستې وشوې -------------------------------------------------------------2

به 36 خانواده نیازمند در بغلان در بخش خانه سازی کمک شد -----------------------------------------------------2

له درې  زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول --------------------------------------------------------------3

مسیر بالکان: برای جلوگیری از مهاجرت غیرقانونی، کمسیون اروپا طرح جدیدی را پیشنهاد کرد-------------------4

اروپايي ټولنې د ناقانونه کډوالۍ سره د مبارزې لپاره نوی پلان وړاندې کړی ---------------------------------------5

. بلغاریا هغه راپورونه رد کړل چې ګواکې پولیسو يي پر کډوالو ډزې کړي -----------------------------------------7

اداره مهاجرت سویدن: درخواست پناهندگی زنان اهل افغانستان در سویدن پذیرفته می‌شود -------------------------9

# متن کامل اخبار

## به 379 خانواده در لغمان مساعدت شد

ویب سایت وزارت




**برای 379 خانواده بیجاشده، برگشت کننده و نیازمند در ولایت لغمان به تاریخ 14 قوس کمک رسانی صورت گرفت.**

**این کمک ها این کمک ها از سوی اداره پناهندگان سازمان ملل متحد(UNHCR) در هماهنگی و نظارت ریاست امور مهاجرین و عودت کنندگان آن ولایت به خانواده های مذکور توزیع گردید.**

**در جریان کمک مذکور به هر خانواده نظر به نیازمندی شان مبالغ ( 100 ، 300 و 420 ) دالر امریکایی از جانب توزیع شد.**

## پکتیکا کې له زرو زیاتو کورنیو سره مرستې وشوې

دوزارت ویب سایت



د (ACHRO) موسسې له لورې د پکتیکا ولایت د مهاجرینو چارور یاست په همکارۍ د لینډۍ په (۱۴) مه (۱۶۴۴) کورنیو سره نغدي مرستې وشوې.

یادو کورنیو هرې کورنۍ ته (۳۳۰) امریکایي ډالره نغدې ووېشل شوې.

## به 36 خانواده نیازمند در بغلان در بخش خانه سازی کمک شد

ویب سایت وزارت



**یاست امور مهاجرین و عودت کنندگان ولایت بغلان با همکاری اداره پناهندگان سازمان ملل متحد به تاریخ 14 قوس برای 36 خانواده بیجاشده و نیازمند در آن ولایت کمک رسانی کرد.**

**خانواده های که از این کمک ها مستفد شده اند، در یک نیازسنجی مشترک با نهادهای همکار در بخش فراهم سازی مسکن و اعمار خانه مستحق شناسایی شده بودند.**

**در جریان کمک یادشده که در دو بخش انجام شد، به هر یک از 28 خانواده مبلغ 600 دالر و به هر یک از 8 خانواده دیگر مبلغ 550 دالر امریکایی توزیع شد.**

## له درې زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

دوزارت ویب سایت



**نیمروز ولایت د وربښمو پل او د هرات ولایت د اسلام قلعه له لارې د ایران څخه ( ۳۶۱۷) تنه افغان مهاجرینو هېواد ته راستانه شول.**

**د نیمروز او هرات ولایت د مهاجرینوچارو ریاست د معلوماتو له مخې د وربښمو پل له لارې دلیندی په (۱۳) مه (۱۶۳۷) تنه او د هرات ولایت د اسلام فلعه له لارې د لیندی په (۱۴) مه (۱۹۸۰) تنه هېواد ته راستاته شوي.**

**د یادو راستنېدونکو له ډلې (۸۸) کورنی او (۳۲۲۳) تنه مجردین ول، چې له ډلې یې (۶۴) کورنی د ( ۴۵۱) تنو مجردینو سره د مرستو په موخه د (IOM) نړیوال سازمان ته ور وپېژندل شول.**

## مسیر بالکان: برای جلوگیری از مهاجرت غیرقانونی، کمسیون اروپا طرح جدیدی را پیشنهاد کرد

مهاجرنیوز




**در آستانهٔ اجلاس سران کشورهای اتحادیه اروپا و بالکان غربی، کمسیون اروپا طرحی را برای جلوگیری از مهاجرت‌های غیرقانونی از مسیر بالکان غربی مطرح کرده‌است.**

**این در حالی است که کمسیون اروپا دو هفته قبل نیز، برای کاهش جریان مهاجرت در دریای مدیترانه، توصیه‌هایی را ارایه کرده بود.**

**قرار است پیش از برگزاری اجلاس سران کشورهای اروپا، مقامات بالکان غربی روی این طرح که شامل 20 اقدام عملیاتی برای جلوگیری از مهاجرت غیرقانونی است، بحث کنند .**

**کمسیون اروپا همچنان می‌گوید که اتحادیهٔ اروپا با تشدید روند مهاجرت غیرقانونی مواجه است.**

در همین حال، آژانس فرانتکس گفته که از آغاز سال جاری تا ماه نومبر **130** هزار مورد تلاش برای عبور غیرقانونی مهاجران از مسیر بالکان به مرزهای اتحادیهٔ اروپا را به ثبت رسانده‌است که این آمار در مقایسه با سال **2021** افزایش سه مرتبه‌یی را نشان می‌دهد.

بیشتر بخوانید :وزیر داخله: قبرس در بازگرداندن مهاجران از اتحادیهٔ اروپا پیشی گرفته است

گفته می‌شود که این طرح به دو مورد مهم تمرکز دارد. اولی ورود بدون ویزا به بالکان غربی که مهاجران از این طریق تلاش می‌کنند وارد مرزهای اتحادیهٔ اروپا شوند و مورد دوم مهاجرانی است که مسیر مدیترانهٔ شرقی را دنبال می‌کنند.

در همین حال، به اساس این طرح اقدامات در پنج حوزه باید به صورت مشترک با کشورهای بالکان که نامزد عضویت در اتحادیهٔ اروپا هستند، اجرا شود. افزایش نظارت مرزی در طول مسیرهای مهاجرتی، ایجاد روندهای سریع پناهندگی و پشتیبانی از ظرفیت پذیرش در کشورهای بالکان است. همچنان مبارزه با قاچاق انسان، تقویت همکاری در زمینهٔ پذیرش مجدد و هماهنگ کردن سیاست‌های ویزا از مواردی است که این طرح روی آن تاکید دارد.

کمسیون اروپا همچنان می‌گوید که در کنار این اقدامات، چالش اصلی تصویب پیمان مهاجرت و پناهندگی است که در ماه‌های آینده به آن پرداخته خواهد شد.

## اروپايي ټولنې د ناقانونه کډوالۍ سره د مبارزې لپاره نوی پلان وړاندې کړی

کډوال نيوز



د اروپايي ټولنې او لويديځ بالکان هيوادونو پر داسې يو پلان هوکړې ته رسيدلي چې موخه يې د لويديځ بالکان هيوادونو له لارې اروپا ته د ناقانونه کډوالو د څپو مخنيوی بلل شوی. پر پولو د څار ډيرول او د ويزې په پاليسو کې سمون د دغه نوي پلان لومړيتوبونه دي.

د اروپايي هيوادونو مشران د عمل د دغه پلان په اړه د ډسمبر په ۵ مه، د البانيا په پلازمينه تيرانا ښار کې هوکړې ته رسيدلي دي.

ياد پلان پنځه مهمې موخې لري چې د دغو موخو لپاره ۲۰ عملياتي پلان وړاندې شوی. په دغو پنځو عمده موخو کې د پولو د مديتريت پياوړي کول، د پناه غوښتنې د پروسو چټک کول، د جذب د ظرفيت پياوړي کول، له انساني قاچاق سره مبارزه، د بيرته ستنولو د پروسې څخه ملاتړ او همدارنګه د ويزې په پاليسو کې سمون شامل دي.

د دغو پلانونو د عملي کولو او د کډوالو په مرکزونو کې د ظرفيتونو د لوړلو او د پناه غوښتنې د سيستمونو د پياوړي کولو لپاره به اروپايي ټولنه د لويديځ بالکان هيوادونو سره مالي مرستې ډيرې کړي.

د اروپايي هيوادونو مشران د ناقانونه کډوالو د څپو د مخنيوي په اړه دغه ګام په داسې مهال اخيستی چې د لويديځ بالکان له لارې اروپا ته د ناقانونه کډوالو څپې تر وړاندې خورا ډيرې شوې. په دغه پلان کې ويل شوي چې د فرانټکس لخوا د روان کال له پيل څخه د لويديځ بالکان له لارې د اروپايي ټولنې په بهرنيو پولو کې ۱۳۰ زره کسانو د اوښتو هڅه کړې چې د تير کال په پرتله درې چنده ډيروالی ښيي.

نور ولولئ :اروپا پر خپلو سرحدونو کې لسګونه زره سرحدي ځواکونه مسلح کوي

همدارنګه هوکړه شوې چې د اروپا پوله ساتي ځواکونه ( فرانټکس) رول به پياوړی شي تر څو وشي کولای د البانيا، مونته نګرو، سربيا او شمالي مقدونيي سره د يوې هوکړې له مخې پر پولو ګډ عمليات ترسره کړي.

په پلان کې راغلي چې د انساني قاچاق سره د مبارزې په موخه به د سربيا او هنګري پر پولو د يورو پول ځانګړي ځواکونو له لورې ګډ عمليات ترسره شي.

تاکل شوې چې د اروپايي هيوادونو د مشرانو له ناستې وړاندې، د لويديځ بالکان چارواکي پر دغې نوې هوکړې بحث وکړي

## . بلغاریا هغه راپورونه رد کړل چې ګواکې پولیسو یې پر کډوالو ډزې کړې

کدوال نیوز



**بلغاریا هغه ادعاوې نه دي منلي چې ګواکې سرحدي ځواکونو یې د اکتوبر په میاشت کې یو سوریایي کډوال په ډزو وژلی. په یوه ویډیو کې چې د دوشنبې په ورځ خپره شوې لیدل کیږي چې د بلغاریا پر پوله یو ځوان پر سینه او لاس په مرمۍ ویشتل کیږي او بیا پر ځمکه راغورځیږي.**

**اسوشیتید پرس خبري آژانس د سه شنبې په ورځ لیکلي،دغه سړی چې عبدالله الرستوم نومیږي او ځان د سوریې اوسیدونکی معرفي کوي ادعا کړې چې د بلغاریا سرحدي ځواکونو پر نوموړي هغه مهال ډزې وکړې چې نور ملګري یې بلغاریا ته د ننوتلو پر مهال و نیول شول او بیرته ترکیې ته وشړل شول.**

**پر دغه کډوال د مرمۍ د ډزو ویډیو په اړه څیړنه د» لایټ هاوس «په مشرۍ د یو شمیر اروپایي رسنیو لکه اسکای نیوز، فرانسوی ورځپاڼې لوموند، ټایمز او آزادي راډیو لخوا په ګډه ترسره شوې وه .**

**REVEALED: First ever footage of a refugee being shot at an EU border@LHReports has obtained this shocking video where European border guards shoot a young Syrian refugee w/live ammunition at the Bulgaria-Turkey border**

**THREAD pic.twitter.com/MdZ0dWn98P**

**— Lighthouse Reports (@LHreports) December 5, 2022**

**د بلغاریا دولت بیا دغه ادعاوې نه مني او وایي چې پوځي ځواکونه یي له پولو ساتنه کوي او په کلکه د نړیوالو او داخلي قوانینو درناوی کوي.**

**د دغه اروپایي هیواد د کورنیو چارو وزیر ایوان دمرجیف خبریالانو ته وویل:« د کډوالو پر وړاندې د تاوتریخوالي هیڅ پیښه شتون نه لري.» ښاغلی دمرجیف وایي چې د یادو رسنیو دغه راپور چې د بلغاریا او ترکیې له لارې د کډوالی په اړه خپره شوې، بې بنسټه دی.**

**د بلغاریا د کورنیو چارو وزیر زیاته کړې چې د دغې موضوع د څیړلو په اړه یي له څه مودې راهیسې له ترکي چارواکو سره کار کړی. هغه په دې اړه وویل:« هیڅ داسې شواهد شتون نه لري چې د دې ښودنه وکړي چې د بلغاریا د سرحدي پولیسو لخوا ډزې شوې وي او د هیچا پر وړاندې د بشري حقونو څخه د سرغړونې په اړه کوم اقدام نه دی شوی«.**

**دمرجیف دا هم وویل چې سرحدي ځواکونه یي په دې وروستیو کې د هغو خلکو لخوا له تاوتریخوالي سره مخامخ شوي چې غواړي بلغاریا ته له قانوني اسنادو پرته دننه شي. نوموړی وایي چې ځینو خلکو یي د سرحدي ځواکونو پر وړاندې له ډبرو او چاقوګانو هم کار اخیستی.**

**هغه زیاتوي:« که څوک داتمه لري چې د بلغاریا پولیس به دا ډول کړنو ته ځواب ورنکړي، دوې غلط دي**

## اداره مهاجرت سویدن: درخواست پناهندگی زنان اهل افغانستان در سویدن پذیرفته می‌شود

افغانستان انترنشنال




**اداره مهاجرت سویدن اعلام کرد که درخواست پناهندگی زنان و دختران افغان در سویدن را بدلیل شرایط بد زندگی برای آنان در افغانستان می‌پذیرد.**

**کارل بیکسلیوس، یک مقام اداره مهاجرت به کانال ۴ تلویزیون سویدن گفت که محدودیت‌های جدید طالبان در حد «آزار و مجازات» زنان در افغانستان است.**

**کارل بیکسلیوس، مسوول بخش حقوقی اداره مهاجرت سویدن گفت که از زمان قدرت گرفتن طالبان، وضعیت برای زنان افغانستان بدتر شده و هیچ نشانه‌ای از تغییر وضعیت دیده نمی‌شود.**

**مقامات اداره مهاجرت سویدن اکنون پناهندگان زن افغانستان را جز «گروه های آسیب پذیر» تلقی می‌کنند که باید به آن‌ها به خاطر تعقیب و آزار موجود در افغانستان، در سویدن پناه داد.**

**فاطمه خرواری، یک فعال حقوق بشر به کانال ۴ گفت که بسیاری از پناهندگان زن از افغانستان با این تصمیم اداره مهاجرت «نفس راحت» کشیده می‌توانند.**

**پیش از این اداره مهاجرت به خاطر اخراج پناهندگان افغان و نادیده گرفتن وضعیت افغانستان تحت حاکمیت طالبان مورد انتقاد سازمان‌های حامی پناهندگان قرار گرفته بود.**

**به گزارش کانال ۴، فعلا تقاضای اکثریت پناهندگان زن از افغانستان در سویدن پذیرفته شده است و زنانی که درخواست پناهندگی شان رد شده بود، می‌توانند تقاضای تجدید نظر کنند.**

خبرنامه